USAID | AFGHANISTAN
FROM THE AMERICAN PEOPLE

# زیربنا

جون ۲۰۱۱



Photo: USAID/Afghanistan

د کجکی بند په سویلي ولایتونو کې د اوبو لګول تنظیموي او بریښنا هم برابروي.

### شالید

څو لسیزې جګړې، خراب موسمي حالات او د ژور فقر په نتیجه کې نه پاملرنه د دې باعث شوي چې د هیواد زیربنا په نامناسب او ورانۍ په حال پاته شي. په اکثر لرو سیمو کې، پرمختګ اصلاً صورت ندی موندلی. د زیربناو نه شتون د افغانستان پر اقتصادي پرمختګ باندې ژور اغیزه کړېده. خو په هرحال، په وروستیو کلونو کې، افغانستان زیات پرمختګ کړی.

### د پروګرام کتنه

د متحده ایالاتو حکومت مرسته کوي څو د افغانستان ظرفیت پیاوړی شي چې لارې طرح، جوړ او وساتي، د دوامدار برېښنا توزیع زیات کړي، څښلو اوبو ته لاسرسی پراخ کړي، او ښوونځي، کلینیکونه او روغتونونه طرح او جوړ کړي. په داسې حال کې چې په افغانستان کې د زیربیناوو جوړښت د متحده ایالاتو حکومت ته د لنډ مهال ثبات او اوږد مهال موخو لپاره حیاتي دی، داسې پروژې له ګڼو ستونزو او چلنجونو سره مخامخ دي. اکثره پروژې له امنیتي ګواښونو سره مخامخ دي، په فزیکي لحاظ لرې سیمې دي چې لاسرسی نه ورته کیږي، او د وسایطو انتقال د لارو د خرابوالي له امله آسانه ندی. خو بیا هم، د USAID د زیربناوو پروژې، د افغان حکومت او نورو ډونرانو په همکارۍ او ملاتړ، داسې ستونزې په بریالیتوب سره حلوي تر څو هغه لارې، اوبو او ودانۍ جوړ کړي چې د کاري فرصتونو د ایجاد او د اقتصادي ودې باعث ګرځي.

### انرژي

سروې ګانې ښیي چې د بریښنا عرضه افغانانو ته د ټاپ لومړیتوبونو څخه دی. د USAID هڅې د افغان خلکو لپاره بریښنا ته لاسرسی په پراخه توګه زیات کړي. متحده ایالات د افغان حکومت نه ملاتړ وکړ څو د متعددو ډونرانو هڅې همغږې کړي او د شمال ختیځ د برق سیستم جوړ کړي د دې لپاره چې ارزان بیه بریښنا له ازبکستان څخه کابل ته او نور د نفوسو مرکزونو ته ولیږدوي. دغه راز، متحده ایالات د کجکي هایدروپاور دوه توربینونه احیا کړل چې د بند د تولید ظرفیت یې دوه چنده کړل. دغه راز، USAID د تره خیلو د برق ستیشن جوړ کړ چې کولای شي ۶۰۰۰۰۰ کابل اوسیدونکو ته او هغو ته چې د NEPS ټولنو کې ژوند کوي بریښنا ورکړي. په دې وروستیو کې، USAID یوه نوې پروژه هم پیل کړه چې د کجکي په بند کې یو دریم توربین هم نصب کړي او د بریښنا ویش او لیږد په کندهار او هلمند ولایتونو کې وغزوي. د متحده ایالاتو لخوا پلان شوي او تمویل شوي پروژې پر دې هم شامليږي چې د سویل ختیځ د بریښنا سیستم یې له NEPS سره وصل کړ او د لیږد یوه ملي شبکه یې جوړه کړه.

د متحده ایالاتو د انرژۍ د استراتیژۍ یو اصلي عنصر دادی چې د هغو افغانانو ظرفیت لوړ کړي چې د بریښنا په سکټور کې کار کوي. د دغه هڅې سره سم، USAID د بریښنا د سکټور ریفورم سره فعاله مرسته کوي او د ملي دولتي ادارې د افغانستان بریښنا شرکت تجارتي کولو کې مرسته کوي. طمع کیږي چې DABS به په یو پیاوړي او غښتلي تجارتی بنسټ بدل شي چې کولای شي د بریښنا ضایعات کم کړي، عایدات زیات کړي او ملیونونو خلکو ته د خدمتونو عرضه ښه کړي. د عایداتو د ټولولو بهبود په DABS کې د دې لامل شو چې په دوو کلونو کې عواید لوړ شي او زیاته بریښنا تر ۱۸ سلنو پورې توزیع شي.

د غتو پروژو تر څنګه، متحده ایالات له ۳۰۰ نه زیاتو محلي سیمو سره مرسته کړیده څو پرمختللی ټکنالوژي ترلاسه او خپل کورونه، ښوونځي او شرکتونه په بریښنا سمبال کړي چې د پاک، بدیل انرژي څخه لاسته راځي لکه کوچنی هایدروپاور، سولر او بادي پروژې.

### لارې

د لارو یوه پراخه شوې او ښه شوې شبکه زیاتو اقتصادي فعالیتونو نه ملاتړ کوي او افغانانو ته توان ورکوي څو کلیدي خدمتونو لکه روغتیاي پاملرنې او زده کړې ته لاسرسی پیدا کړي. د USAID ۲۰۰۰ کیلومترو څخه د زیاتو سیمه ایزو، ملي، ولایتي او محلي لارو د احیا لپاره نقدي مرسته کړیده. د ۱۰۳ کیلومتره په اوږدو د یو ملي لارې کار په شمال کې د بدخشان په ولایت کې (کشم – فیض آباد) په ۲۰۱۰ کې تکمیل شو، او دا کار د نویو او ښه شویو لارو اقتصادي ګټې بربنډه کوي. د نویو تجارتونو تعداد لکه د تیلو ټانکونه او مارکیټونه دوه چنده شوي، د تجارتي بسونو فعالیت زیات شوی، او د لارې په اوږدو کې د مارکیټونو قیمتونه کم شوي.

#### د زیربنا خلاصه

- ډونرانو مرسته وکړه څو د حلقوي سړک ۱۸۶۶ کیلومتر (۸۶ سلنه) جوړ شي، د متحده ایالاتو حکومت ۸۳۱ کیلومتره لاره جوړه کړه
- له افغان حکومت سره د ترانسمیشن لاین په راوستلو کې له ازبکستان څخه څو د انرژۍ قیمت کم شي او عرضه زیاته شي USAID یو اساسي رول لوبولی دی چې د انرژۍ په سکټور کې د زیاتوالي سبب شو
- د بریښنا مصرف ۱۸ سلنه زیات شوی، عایدات ۳۰ سلنه زیات شوي، ګټه تقریباً دوه چنده شوې چې د برق د استعمال عملیاتو لپاره ۴۰ ملیونه ډالره نغدې پیسې برابرې شوي
- د بریښنا نوي او ښه شوي تواصل تجارت، صنعت، حکومت او کورنیو ته ښه بریښنا برابروي

معلومات د جون ۲۰۱۱ څخه

ادامه لر ی

# زیربنا (ادامه)

د متحده ایالاتو لخوا تمویل شوي پلان شوي یا جاري پروژو له جملې څخه د دوو ملي لارو جوړول دي چې خوست او ګردیز له حلقوي سړک سره نښلوي، د سالنګ د تونل عاجل ترمیم، د بامیان – دوشي لارې د لومړۍ برخې جوړول، یو اساسي شمال-سویل سړک، او جاري ترمیم د ولایتي استراتیژیکو لارو چې کلي د ولسوالیو مرکزونو سره نښلوي. USAID د افغان حکومت او خصوصي سکتور سره له نږدې کار کوي څو ۱۷۰۰ کیلومتره لارې په ټول هیواد کې حفظ او مراقبت شي. د USAID پروژې د حکومت کارکوونکو ظرفیت د لارو په ډیزاین کې پیاوړی کوي او د هغو ملي هڅو نه ملاتړ کوي چې د سړکونو یوه خپلواکه اداره او د لارو صندوق جوړ شي چې کولای شي د ترانسپورتي زیربناوو مدیریت او مراقبت په اوږدمهال کې تامین کړي.

## اوبه

اوسمهال، یوازې ۲۳ سلنه افغاني کورنۍ د څښلو مصوونو اوبو ته لاسرسی لري. USAID پردې کار کوي څو په ښاري سیمو کې د څښلو پاکې اوبه برابرې شي او په ۱۰۰۰ کلیوالو سیمو کې د حفظ الصحې ښه تاسیسات برابر کړي. دغه راز، USAID د حکومت د اوبو او حفظ الصحې ریفورم نه ملاتړ کوي چې غواړي د اوبو ښاري سیستم تجارتي شي او د مصارفو جبران زیات کړي او مدیریت ښه شي. علاوتاً، USAID د سیندونو ماستر پلان په جوړولو باندې کار کوي چې افغان حکومت ته اجازه ورکوي څو خپل د اوبو د منابعو پراختیا نه ګټه پورته کړي.

## ودانۍ

USAID روغتونونه، د قابله ښځو د روزنې مرکزونه، د ښوونکو د روزنې مرکزونه، لیسې، رهایشي او تعلیمي تاسیسات د پوهنتون محصلینو لپاره، او دولتي ودانۍ د سیزمیک په مډرن معیار جوړوي. USAID په کابل کې د دوو لیسو ودانۍ جوړوي چې د پوهنتون په اندازه ساحه لري، چې په خاصه توګه داسې طرح شوي څو د هلکانو او نجونو متوسطه تحصیلاتو ته ځای برابر کړي. علاوتاً، USAID په ولایتونو کې د ښوونکو د روزنې مرکزونو ودانۍ، د لوړو زده کړو لپاره د ښوونکو د روزنې مرکزونه، د قابله ګانو لباره د زده کړې مرکزونه او روغتونونه تمویلوي. دغه تاسیسات به د افغان حکومت سره مرسته وکړی څو په ټول هیواد کې اساسي صحي او تعلیمي خدمات عرضه کړي.



Photo: UNOPS

ساختماني کارکوونکي یوه لاره هواروي چې د افغانستان عمده ښارونه سره نښلوي. له ۸۰ سلنو نه زیات افغانان د حلقوي سړک څخه ۵۰ کیلومتره لرې ژوند کوي، چې کابل، کندهار او هرات سره نښلوي. ولایتي او د ولسوالیو لارې بزګرو سره مرسته کوي څو خپل محصولات مارکیت ته راوړي او افغانانو ته اجازه ورکوي څو ښوونځیو او کلینیکونو ته ښه لاسرسي ولري.



Photo: USAID/Afghanistan

USAID د ډیزلي جنراتور تخنیکران او آپریترانو ته روزنه ورکوي څو د افغانانو ظرفیت، مهارتونه او پوهه زیاته شي.


د اړیکي معلومات

USAID/کابل
6180 Kabul Place
Dulles, VA 20189-6180
202.216.6288 x4454
http://afghanistan.usaid.gov
kabulaidinformation@usaid.gov